



Ketabton.com

# د هندوستان ټګان

((یو فلم - یو حقیقت))

لیکوال: رحمت شاه (فراز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړنې:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم: | ..................... | د هندوستان ټګان |
| لیکوال: | ..................... | رحمت شاه (فراز) |
| کمپوز: | ..................... | رحمت شاه (فراز) |
| د تصنیف نېټه: | .................... | 2018، 24، جولای، دوشنبه |

د لیکوال د اړیکې شمېرې:

0093 (0) 78 36 36 047

0093 (0) 76 75 74 834

برېښنالیک: rsfaraz4@gmail.com

**یادونه**: د کتاب ټول حقونه له لیکوال سره خوندي دي. څرنګه چې دا کتاب لا تر اوسه نه دی چاپ شوی، نو د لیکوال په اجازه یې هره خپرندویه ټولنه چاپولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


سریزه ........................................................ 4

د ټګانو مخېـینه........................................................ 6

ټګان ولې او څنګه را پیدا شول؟ ........................................................ 7

د ټګانو عقیدوي او کلتوري اړخ ........................................................ 9

د ټګۍ کړنلاره ........................................................ 13

د ټګانو د ټګۍ بېلګې ........................................................ 16

نوی ټګ ........................................................ 20

په خپلو کارونو نه پښېمانتیا........................................................ 22

له ټګانو سره خبرې ........................................................ 24

د ټګانو پای........................................................ 33

د ټګانو انځورونه ........................................................ 36

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

**عامر خان د هندي فلمي کمپنۍ ((بالي ووډ)) له نوموتو او نومیالیو څېرو څخه دی. په فلمي نړۍ کې عامر خان د خپل ځانګړي کار او فکر له امله د ((مسټر پرفېکشنسټ)) په نوم یادېږي. عامر خان دا لقب هغه مهال د ځان کړ، چې د ((تارې زمین پر)) او ((تري اِډیټس)) فلمونه یې جوړ کړل او کله چې یې په سېنما کې ((پي کې))، ((دنګل)) او ((دي سکرټ سوپر سټار)) په څېر بې ساري فلمونه وړاندې شوو؛ هغه مهال یې نوم، شهرت او مینوال لا زیات شوو. نوموړي په دې فلمونو کې د ټولنې ځینې حقایق رابرسېره کړي او ټولنې ته یې یو نوی او ځانګړی فکر ورکړی.**

**په اوسنیو وختونو کې عامر خان پر یوه بل فلم چې ((Thugs of Hindustan)) نومېږي، بوخت دی. د نوموړي فلم په اړه پر رسنیو تودې خبرې روانې دي او د هندي فلمونو مینه وال – هغه  که د نړۍ په هر ځای کې وي – د فلم راتلو ته سترګې پر لار دي. دا فلم چې د ۲۰۱۸ کال د نومبر په نهمه نېټه به په سېنما کې وړاندې شي، د عامر خان له پخوانیو ټولو فلمونو سره ډېر زیات فرق لري. په دې فلم باندې د تبصرې پر مهال عامر خان رسنیو ته وویل:**

> ((دا فلم له دنګل او زما له نورو فلمونو سره زیات توپیر لري ، په دې فلم کې زما کردار او رول د یوه داسې انسان په توګه دی چې د پیسو لپاره خپله مور هم پلورلی شي.
> نوموړي د خبرو په ترڅ کې وویل: په دې فلم کې مې د یوه داسې یو انسان په حیث کار کړی چې له پیسو پرته ورته هېڅ شی هم ارزښت نه لري ، خپله مور هم نه.))

**دې فلم ته د خلکو د لېوالتیا یو لامل دا هم دی چې عامر خان د لومړي ځل لپاره د بالي ووډ له مخکیني کنګ او اوسني سوپر سټار ((امتاب بچن)) سره یو ځای کار کوي او سربېره پر دوی دواړو به د بالي ووډ نوموتې اداکاره ((کترینه کېف)) او د هندي فلمونو نوې ستورې ((فاطمه ثناء شیخ)) هم رول ولوبوي. د دې فلم په اړه د هند په ټولنیزو او خواله رسنیو کې دې پوښتنې ډېر زیات د خلکو پام ور اړولی چې آیا دا فلم به د ((باهو بلي ۲)) ریکارډ مات کړي او که نه؟**

**د ((Thugs of Hindustan)) فلم پر یوې رښتیني کیسې بنا دی. دا کیسه د هغو ټګانو په اړه ده چې په هند کې د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې را پیدا شوو او د خلکو د زړونو ډاړ، د سترګو خوبونه او د ذهنونو ارامتیا یې له منځه یووړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ((Thug)) کلمه انګليسي ژبې ته د هندي ژبې له ((ټهګ)) څخه راغلې او هغه کس ته وايي چې په ډله ييزه توګه خلک وژني او لوټماري کوي. د ((ټګ)) همدا کلمه په پښتو ژبه کې هم کارېږي او هغه چاته وايي چې د خلکو د غولولو او دوکه کولو لپاره دروغ وايي، دوه مخي کوي او له ډول ډول چلونو او فرېبونو کار اخلي.**

**په دې ليکنه کې مې هڅه کړې چې همدا کيسه د تاريخ له پاڼو را وباسم او په لنډ ډول يې ستاسې په وړاندې کېږدم. د کتاب لويه برخه د دوکتور مبارک علي د کتاب ((تاريخ: ټهګ او ډاګو)) پر ژباړې – سره له بدلون او زياتونې – ولاړه ده. دغه راز د نورو اخځليکونو ترڅنګ د ټګانو په اړه د انګليسي ليکوال ((مېډو ټېلر)) له ليکلي ناول ((د يوه ټګ اعترافات)) څخه هم پراخه ګټه شوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټګانو مخښینه

((که څه هم د ټګانو د پیل په اړه په کره توګه څه نه شي ویل کېدی ، خو ویل کېږي چې ابتداء یې له ((ساګارتي)) څخه وشوه چې د ایګزکس پوځ ته یې اته زره اس سپاره ورکړل. دا خبره یوناني مورخ ((هیرودتس)) هم د خپل تاریخ په اوومه برخه کې راوړې.

دې خلکو به وزې او مېږې پوولې او ایراني نسل پورې اړوند وو او د هغوی په ژبه به یې خبرې کولې. د دوی جامې ایرانیانو او پکتین خلکو ته ورته وې. دوی پرته له خنجره اوسپنیزه یا مسي وسله نه درلوده. هغه یوازینۍ وسله چې دوی کاروله ، له چرم څخه جوړ شوی تار وو. کله به چې له دښمن سره مخ شول ، هغه تار به یې چې په یوه څنډه کې به یې تاو شوی پړی وو ، په دښمن ور واچاو. که په دې ډول به یې هغه اس سپور راګیر کړ نو په ډېرې اسانۍ به یې وواژه. پر دې خبره څه نا څه باور کېدی شي چې د ساګارتي د اس سپرو وروستي پښتونه (نسلونه) دې له مسلمانو یرغل کوونکو سره هند ته راغلي وي او همدلته د دهلي په شاوخوا سیمو کې مېشت شوي وي.))

**مغلیه سلطنت د هند له ازادۍ مخکې را ونړېد او انګرېزانو د ختیځ هند کمپنۍ له لارې په هند کې د برتانوي سلطنت ټغر وغوړاوه او د هند د سیاست واګې یې په خپل لاس کې واخیستې. دا هغه وخت وو چې هند له سیاسي یو والي، مرکزي حکومت او د نظام له شتون څخه بې برخې وو، دغه راز داسې قانوني اداري او مراکز هم نه وو چې د هېواد د ناامنیو، تېریو، ظلمونو، تیت او پرکۍ، بېوزلیو، بې کاریو او داسې نورو ناخوالو مخه ونیسي. دا ډول ناوړه حالاتو د هېواد په ګوټ ګوټ کې ځایي حکومتونه وزېږول، ملک الطوایفي حکومتونو د هېواد په بېلا بېلو ځایونو کې سر راپورته کړ او په هېواد کې سرتاسري ګډوډۍ رامنځته شوې. هغه خلک چې له دې ګډوډیو نا ارامه شول او ژوند تېرول ورته ستونزمن شو، له ښارونو ووتل او په دښتو او ځنګلونو کې مېشت شوو. خو ځینو نورو بیا دا ګډوډۍ د ځان پر ګټه وکارولې او د داسې لارو پر سر استوګن شوو چې د مسافرو او تجارتي قافلو تګ راتګ به پرې کېدی؛ دې ډلې د مال او شتمنۍ لپاره د خلکو وژل، ترورول، لوټل او داسې نورې نارواوې پیل کړې، همدا هغه خلک وو چې د ټګانو په نوم یاد شوو. ټګان یوه ځانګړې ډله نه وه او نه یې هم فعالیتونه سره ورته وو، بلکې دوی په څو ډولونو وېشل شوي وو؛ د بېلګې په توګه: بحري ټګان، د وچې ټګان، پانسي ګر ټګان او داسې نور. هرې ډلې د خپلو فعالیتونو سیمې پېژندې او په هماغو سیمو کې به یې خپلې نا انساني کړنې پرمخ بیولې.**

**د ټګانو تر ټولو لوی او زړور سردار بهرام خان وو. بهرام خان په ۱۷۶۵ز کې په هند کې زېږېدلی او د زېږېدنې ځای یې نامعلوم دی. بهرام په ۱۸۴۰ز کې د ختیځ هند کمپنۍ له خوا اعدام کړی شو، نوموړي ټګ په بندیخانه کې په خپله خوله دا ومنله چې په خپلو لاسونو یې ۹۴۱ کسان وژلي او هغه چې شمېرلي یې نه دي، له دې څخه ماسوا دي. د بهرام خان یو بل خاص کس او د ټګانو د یوې ډلې مشر سید میر علي وو. میر علي هم په حیوانیت، ظلم او تېري کې له بهرام خان څخه کم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نه وو او د ده د خپلې خولې خبره چې ۷۱۹ کسان یې په خپلو لاسونو وژلي. خو میر علي هم د ختیځ هند کمپنۍ له خوا په ۱۸۳۸ز کې ونیول او اعدام کړی شو.**

## ټګان ولې او څنګه را پیدا شول؟

**د ټګانو په رامنځته کولو کې نه یوازې په هند کې بلکې د نړۍ په هر کونج او هره ټولنه کې تر ټولو ستر لاس د ټولنې او معاشرې وي. د ټګانو د ژوند لیکونو له مطالعې وروسته دا خبره په ښه توګه روښانه کېږي چې د یو چا په منحرف کېدو کې لوی لاس د ټولنې د ظلمونو، تېریو، بې انصافیو او داسې نورو وي، چې په دې تېریو او ظلمونو کې به له عادي خبرو نیولي آن لویو لویو مسئلو شتون درلود؛ د بېلګې په ډول یو څوک به دومره تر پورونو لاندې شو چې د کورنۍ غړي به یې یوې مړۍ ډوډۍ ته هم محتاجه شوو، ښځه یا لور به یې بې ابرو شوه یا به پرې تېری وشو، بې ګناه به وهل ټکول ورکول شوو، ذلیل او خوار به کړی شو، چا به یې کور یا ځمکه غصب کړه، د کورنۍ له غړو به یې کوم څوک بې ګناه ووژل شو او داسې نور....**

**دا ډول کیسې زیاتره په کلو او بانډو کې پېښېږي، هلته چې د ځمکوالو ځواک ډېر زیات وي، څوک یې په خلاف خوله نه شي چوله کوی او له امر نه یې سر غړول له ژونده له لاس وینځلو سره برابر وي. په داسې حالاتو کې چې له چا سره ناانساني چلند کېږي نو ډېری خلک یې د تقدیر له خوا لیکل شوی وګڼي او پر ځان یې تېر کړي، په دې چې دوی پوهېږي چې نه خو دومره وس او توان لري چې د ځمکوالو یا زورواکو پر وړاندې ودرېږي او نه یې هم اړیکې دومره ژورې وي چې له لوړ پوړو چارواکو د عدل او نیاو غوښتنه وکړي او دا کار له دې امله هم ناشونی وي چې په کلیو کې د دوی په ټولو کارونو او حرکتونو د ځمکوالو سترګې وي او د هغوی تر لاس لاندې سیمه کې نه دوی داسې څه کولی شي او نه هم د سیمې دننه له هغوی سره ډغرې وهلی شي.**

**له همدې امله یوازې په انفرادي ډول به داسې کېدل چې کوم شخص د ظلمونو له لاسه بغاوت او سرکښي ته مخه کړي او دا بغاوت به له ګڼو اړخونو مهم وو. په دې چې دا بغاوت به یوازې د ځمکوال یا ظالم زورواکي په خلاف نه وو، بلکې ټول نظام به یې ننګاوه. په نظام کې به که د دولت له خوا ټاکل شوي قوانین وو نو د ټولنې خپل روایات او ارزښتونه به هم وو او کله به چې ټګ یا ډاکو[1] له دې پولې واوښت نو بیا به د دولت او ټولنې دواړو مجرم شو. په دې اساس ټګ یا ډاکو ته به له دې پرته بله هېڅ لاره نه ور پاتې کېده چې له حاکمو قوانینو سرغړونه وکړي. د ده لپاره به د خلاصون یوازینۍ لار دا وه چې د خپلو جرمونو سزا وګالي او بېرته د ټولنې قوانینو او ارزښتونو ته غاړه کېږدي. ډېری ټګانو به چې یو ځل سرکښي وکړه نو د بېرته راتګ ټولې دروازې به یې پر مخ وتړل شوې او یوازې مرګ به هغه لاره وه چې خپل بغاوت او سرکښۍ ته به یې پرې د پای ټکی ایښوده.**

---

[1] یادونه: ټګ او ډاکو له یو بل سره فرق لري. ټګ خپل فعالیتونه په پټه ترسروي خو ډاکو یې په رڼا ورځ ترسره کوي، بل توپیر یې دا هم دی چې ډاکو زیاتره د بې وزله خلکو له ملاتړه برخمن وي خو ټګ داسې کوم امتیاز نه لري. [لیکوال]

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې امله ټګ به باغي او سرکښ خامخا وو لاکن داسې لاره به یې نه لرله چې د ټولنې او حکومت ارزښتونه او قوانین بدل کړي او نه به یې په ذهن کې داسې کومه طرحه درلوده چې شته واک او اقتدار په خپل لاس کې واخلي او د خپلې ډلې په ځواکمنولو سره د حاکم نظام په خلاف وجنګېږي. ټګ به که له پولیس یا پوځ سره جنګ هم کاوه نو چریکي (ګوریلایي) جګړې به یې ترسره کولې. ټګان به تل په دې هڅه کې وو چې د دوی او پوځي ځواک ترمنځ هېڅ جګړه رامنځته نه شي او تل یې له دولتي ادارو لرې اوسېدا خوښوله.

له همدې امله به د ټګانو او ډاکوانو بغاوت په ټولنه کې کوم سیاسي یا ټولنیز شعور نه زېږاوه او د ټولنې ډېری وګړي به د ټګانو له لید لوري ناخبره پاتې وو.

یو بل علت چې د ټګانو د منځته راتګ لامل ګرځي، د هېواد سیاسي حالات دي. هر کله چې سیاسي ځواک کمزوری شي او د مرکزي حکومت له ویجاړېدو وروسته هېواد ټوټې شي نو په دې صورت کې هېڅ داسې قانوني اداره نه پاتې کېږي چې په هېواد کې خپل تسلط وساتي او د قانون برلاسي پکې حاکمه کړي. څکه نو د یوه لوی سلطنت له ماتېدو وروسته چې خپلسري او خپلواک واړه واړه حکومتونه رامنځته شي، همالته کوچني ځمکوال هم د مالیې او ټېکس له ورکولو انکار وکړي.

په هند کې هم د مغولي سلطنت له راپرځېدو وروسته داسې قبایلو چې په ځنګلونو او لویو لارو پر سر ژوند کاوه د قافلو او مسافرو شکول پیل کړل، څکه چې د سیاسي انتشار او خپرواي په دې وخت کې هېڅ داسې ځواک نه وو پاتې چې دوی ماتولی وشي.

ټګانو به په داسې ځایونو کې استوګنه لرله چې د سوداګریزو کاروانونو او مسافرو تګ راتګ به پرې کېدی. د اتلسمې پېړۍ له وروستیو د نولسمې پېړۍ تر لومړنیو څلورو لسیزو پورې دوی د خپلو وژنو، لوټمارۍ، شکونې، د مسافر تښتونې او داسې نورو وحشي فعالیتونو له امله په ټول هند کې وېره، وحشت او ډار خپور کړی وو.

که څه هم د ټګ کلمې په اورېدو ذهن ته ګډوډي، بې نظمي او انارشي راځي خو د وژنو او لوټ مارۍ په چارو کې د ټګانو کار او فعالیت دومره منظم او له پلان سره سم وو، چې ټول خلک یې حیران کړي وو.

د ټګانو تر ټولو وېروونکی اړخ یې دا وه چې یوازې له قافلو یې د هغوی شتمنۍ او مالونه نه لوټل بلکې بشپړه قافله به یې له ټول مال، سامان، پیسو او شتو سره داسې غایبه کړه چې څوک به په دې هم نه پوهېدل چې قافله په ځمکه ننوته او که اسمان ته پورته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټګانو عقیدوي او کلتوري اړخ

((په هند کې د هندوانو او مسلمانانو دښمني له پېړیو پېړیو راهیسې را روانه ده. د دې علت د مسلمانانو بریاوې او پر هندوانو د هغوی ظلمونه دي ، خو د ټګانو د دې ټولې کیسې په زړه پورې اړخ دا دی چې د دې ډلې ټولو غړو به - هغه به که مسلمان وو که هندو – خپلمنځي کینې او کرکې له منځه یو وړې او مسلمانانو به د هندوانو د خدایانو لمانځنه کوله او ټول هغه دودونه به یې پر ځای کول چې د هندوانو د خدایانو لپاره به ترسره کېدل. دغه راز په ډله کې به د هندوانو د مذهب له ټولو ممنوعه شیانو سرغړونه کېده. د دواړو عقیدو پیروانو به په دې ناوړه او ناانساني سوداګرۍ کې یو بل ته لاسونه ورکول او چارې به یې په یو والي ترسره کولې. د ټګانو په وینا د ((اود)) په سیمه کې په لسو کې نهه ، ((دو آبه)) کې په پنځو کې څلور ، ((نربدا)) کې په څلورو کې درې ، ((راجپوتانه)) کې په څلورو کې یو او په ((بوندېل کنډ))، ((بنګال))، ((بېهار)) او ((اړېسه)) کې نیمایي مسلمانان او نیمایي هندوان وو.))

**د نورو ډلو په خلاف په دې ډله کې هېڅ ډول ټولنیز، مذهبي او ډله ییز بندیز، تبعیض، تمییز او توپیر نه وو. د حیرانتیا ځای دا دی چې په دې ډله کې مسلمانانو او هندوانو دواړو په ګډه فعالیت کاوه. دوی ځانونه د ((بهواني دېوي)) یا ((کالي دېوي)) په نوم د یوې ښځینه خدایینې پیروان بلل او د هغې عبادت به یې کاوه؛ دوی به د بهواني لمانځنه په څلور نومونو کوله: ((دېوي))، ((کالي))، ((دُرګا)) او ((بهواني)). هر کله به چې دوی د ټګۍ او لوټمارۍ په هوډ وتل نو لومړی به یې د همدې خدایینې په مخکې یو ګډ یا اوزګوړی قرباني کاوه او فال به یې نیوه، که به د فال ځواب مثبت راووت نو د خپل ښکار په لټون پسې به وتل، که نه نو خپل سفر به یې ځنډاوه او یو څو ورځې وروسته به یې بیا همدا دود ترسره کاوه او کله به یې چې مثبت ځواب (چې له جهالت پرته به بل څه نه وو) ترلاسه کړ نو د ((جې بهواني، جې بهواني!)) نعرې به یې کړې او په سفر به ووتل. د دوی دا کار که یوازې هندوانو کولی نو د نیوکې وړ نه وو خو د حیرانتیا ځای دا دی چې په دې کار کې به مسلمانانو هم په ډېرې خوښۍ ګډون کاوه؛ له دې سره به مسلمانانو پنځه وخته لمونځونه هم کول، روژې به یې نیولې او نور عبادتونه به یې ترسره کول خو د هندوانو ټول هغه رسمونه چې په ټګۍ پورې به اړوند وو، هم ترسره کول او دا کار یې بد نه ګاڼه او نه یې هم د دې خبرې څه پروا کوله.**

**هغه علت چې دوی ته یې د خلکو وژل او قتلول اسانه کړي وو، دا عقیده وه چې کوم خلک چې دوی وژني هغه سیده جنت ته ځي، په دې چې هغوی په اصل کې د خدایینې لپاره قربانېږي. دا یادونه پر ځای بولم چې غوا د ((دُرګا دېوي)) یا ((بهواني)) یوه نښه ګڼل کېده، له همدې امله کله به چې یو مسلمان ټګ شو نو د غوا غوښه خوړل به یې پرېښنو وه. که څه هم ټګان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان وو، د قرآن کريم تلاوت به يې کاوه، لمونځونه به يې کول او روژې به يې نيولې خو له خپل خدای يا رسول[2] څخه به يې هېڅکله هم مرسته او کومک نه غوښت.

ټګانو د خپلو خرافاتي ګروهو او عقيدو تر څنګ فالونو ته هم په درنه سترګه کتل او د دوی په ژوند، اند او ټګۍ يې پراخ اغېز ښندلی وو. د سرک پر ښۍ غاړه د هوسۍ ليدل د دوی لپاره د نېکمرغۍ او سوکالۍ معنا لرله. که به يې د ګيدړې غږ د ورځې له خوا او د هيلۍ غږ د شپې له خوا واورېده نو هغه سيمه به يې سمدستي پرېښوده. که به مږ د دوی په وړاندې له سرک نه تېر شو نو په دې صورت کې به يې هغه لاره پرېښوده او بله لاره به يې غوره کوله. که به د خدايښې په وړاندې د قربانۍ پر مهال له ښي لوري د کوم ژوي يا مرغه غږ راغی نو دا به يې نېک فال باله او له دې کبله چې دا سفر به يې ډېر زيات ګټور او نېکمرغه وي، خوښي ښرګندوله.

د ټګانو يو بل دود پر بېلچې قسم کول وو. د ډلې ټولو غړو به پر بېل (بېلچه) لوړه کوله، بېل چې په پاک ټوکر کې به تاو شوی وو، په داسې ځای کې به يې کېښوده چې د غوا په خوشيو به مهين شوی وو. دوی په دې عقيده وو چې که کوم څوک پر بېل له قسم کولو وروسته سرغړونه وکړي، هغه ته سخته سزا ورکول کېږي. که دوی به په کوم کس د جاسوسۍ شک درلود نو له هغه به يې هم د همدې بېل پر سر قسم اخيسته. که په بې پامۍ کې به بېل ترې په ځمکه وغورځېدی نو دا به يې يو بد فال ګاڼه او سمدستي به يې هغه ځای پرېښوده او بلې سيمې ته به تلل. د ټګانو دا قانون وو چې تر څو به يې ښکار ونه موندی، نه به يې وېښتان جوړول او نه به يې هم پان خوړ.

ټګانو دودونو او رواجونو ته هم خاص ارزښت ورکاوه او خپلو رسومو او رواجونه ته ژمن خلک وو. دودونه په رواني لحاظ د وګړو د نږدې کولو، د هغوی د اړيکو په قوي کولو او د هغوی تر منځ د مينې په زياتولو کې مهم رول لوبوي. همدا دودونه وو چې ټګان يې تر اوږدې مودې پورې د يوه راز په توګه وساتل او يووالی او اتفاق يې په برخه وو. خو د حيرانتيا ځای دا دی چې په برتانوي پېر کې کوم وخت چې د دوی اړوند جاسوسي پيل شوه نو هېڅا يې هم مخنيوی ونه کړی شو او د شاهدانو په توګه د ټګانو مشهور او نامتو سردارانو نه يوازې له خپلو رازونو پردې پورته کړې، بلکې د خپلو ملګرو په لاس ورکولو کې يې له حکومت سره مرسته هم وکړه او د همدې جاسوسۍ پر بنسټ حکومت وکولی شو چې د ټګانو خورې ورې او له اسراره ډکې ډلې يوه يوه له منځه يوسي.

د ټګانو يو بل نوښت – البته که نوښت ورته وويلی شم – دا وو چې د دوی وسله بيخي يوه نوې او بېله وسله وه. تر ننه پورې به مو د سلګونه ډوله وسلو نومونه اورېدلي وي، دغه راز د يو چا د وژلو د بېلا بېلو طريقو په اړه به مو هم يو څه لوستلي يا اورېدلي وي؛ خو د ټګانو د وژلو وسله او د وژلو طريقه بيخي بېل او مختلف وو، يا داسې ويلی شو چې د دې طريقې اختراع کوونکي همدا ټګان وو. دوی به د خپل ښکار د قتلولو لپاره له يو ډول رومال څخه چې د غشي نښه به پرې رسم وه، کار

[2] دلته رسول د زياتې حيرانتيا له مخې راغلی! [ليکوال]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخیسته. د رومال په منځ کې به یې یوه سکه کېښوده او رومال به یې د خپل حریف له غاړې تاو کړ او غرغره به یې کړ. د سکې اېښودو علت یې دا وو چې سکې د دوی کار ور اسانه کاوه او مقابل به ډېر ژر خپله ساه له لاسه ورکوله.**

**په یوه روایت کې راځي چې:**

((پر دنیا یوه شیطان ولکه وکړه او چې څومره انسانان به زېږېدل ، دې شیطان به خوړل ، په دې ډول د دنیا نفوس ورځ تر بلې کمېده. په پای کې ((کالي دېوي)) یا ((بهواني دېوي)) د انسانانو د ژغورلو لپاره راغله. هغې پر شیطان یرغل وکړ او ټوټې ټوټې یې کړ ، خو د شیطان د وینې له هر څاڅکي یو عفریت (شیطان) پیدا شو ، که څه هم دېوي هغه ټول له تېغه تېرول ، خو د هغوی د وینې له څاڅکو پرلپسې د شیطانانو شمېر زیاتېدی ، تر دې چې د هغوی شمېر وېروونکي حد ته ورسېد. دېوي ستړې او مایوسه شوه او فکر یې وکړ چې د دوی د وژلو لپاره باید یوه بله لاره پیدا کړي ؛ ویل کېږي چې هغې خپلې هلې ځلې بس کړې او د خپلو تخرګونو له خولو یې دوه سړي پیدا کړل او دواړو ته یې رومالونه ورکړو تر څو د رومال په وسیله د شیطانانو غاړې ور ټینګې کړي او وینه یې ونه بهېږي. دا امر سمدستي پلي شو او د شیطانانو غاړې غرغره کړی شوې او ووژل شوو. د دې کار له پای ته رسولو وروسته دواړو غوښتل رومالونه بېرته دېوي ته وسپاري خو دېوي یې له اخیستو انکار وکړ او ویې ویل چې دا رومالونه د خپلې په زړه پورې بریا په یاد کې له ځان سره وساتئ ، بلکې د دې رومال په کارولو د ګټورې ټګۍ مسلک غوره کړئ چې په وسیله به یې راتلونکي نسلونه خوشاله ژوند وکړي. په دې ډول دېوي هغوی ته امر وکړ چې هغوی دې انسانان داسې ووژني لکه څرنګه یې چې شیطانان ووژل.))

**دا ډول بېلا بېل عقاید وو چې د ټګۍ مسلک ته یې یو ډول سپېڅلتیا ښښلې وه او د انسانانو د وژلو او د هغوی د مالونو او شتمنیو لوټلو اړوند د ګناه تصور یې له منځه وړی وو او دوی دا جواز ترلاسه کړی وو چې له هر ډول وېرې او خطر پرته خپل کاروبار ته دوام ورکړي؛ او په دې توګه نه باید خپل کار غیراخلاقي بولي او نه هم ناقانوني. همدا خبره د ټګانو په اعترافاتو کې هم وه چې هغوی به پر خپل هېڅ جرم هم پښېماني نه ښوده، بلکې ټګۍ به یې هېڅ ډول جرم نه باله او خپل مسلک ته یې د نورو عادي مسلکونو په سترګه کتل.**

**د ټګانو بل په زړه پورې اړخ دا وو چې دوی د خپلو مورنیو ژبو تر څنګ د ټګۍ لپاره یوه بېله ژبه اختراع کړې وه او د ټګۍ پر مهال به یې په خپلو کې په هماغه ژبه خبرې کولې؛ د بېلګې په ډول کله به یې چې خپل ملګري ته امر کاوه چې ویې وژنه نو د ټګۍ پر ژبه به یې ورته ویل: ((تمباکو راوړه!)) او یا دا چې: ((پان راوړه!))**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټګانو نه شوی کولی د ظاهري قیافې او حالت له مخې بل ټګ وپېژني، په دې چې ټګانو ځانګړی یونیفورم یا نښې نه لرلې، بلکې د ټولنې د نورو انسانانو غوندې یې عادي جامې، عادي چلند او عادي کړه وړه لرل، تر دې چې د دوو سیمو ټګانو به هم یو بل نه پېژندل. خو د ټګۍ کولو لپاره به یې خپلو جامو، چلند او حالت ته له حالاتو او شرایطو سره سم بدلون ورکاوه؛ یعنې کله به یې د ملنګانو جامې واغوستې او خپل ښکار ته به د سوالګرو په بڼه ورتلل، ځینې وختونه به یې پرتمینې او ښې جامې اغوستلې او خپل ښکار ته به یې ځان شتمن او سوداګر ور پېژانده، دغه راز ځینې وختونه به یې د کوم ځانګړي مسلک لکه سندرمارو، هنرمندانو، موچیانو او داسې نورو لباس پر تن کړ او خپل ښکار ته به یې پرې دوکه ورکوله.

که څه هم د ټګانو د اوسېدو او فعالیت سیمې به بېلې بېلې او جلا وې خو د ټګۍ ژبه به یې یوه وه او کولی یې شوی چې بل ټګ یوازې او یوازې د ژبې له مخې وپېژني. ټګانو د یو بل د پېژندلو لپاره خاص کوډ یا رمز درلود او کله به چې ټګ پر کوم کس شکي شو نو هماغه ځانګړی کوډ به یې کاروه، که به یې سم ځواب ورکړ نو پوه به شو چې مقابل کس هم ټګ دی؛ که نه نو بیا به یې د ښکار په سترګه ورته کتل او ټګۍ به یې ورسره کوله. د ټګانو مشر سید میر علي هم یو ځل له همداسې یوه کس سره مخ شو. میر علي پر هغه د عادي انسان ګومان وکړ او غوښتل یې د خپلې ټګۍ په جال کې یې راګېر کړي، خو له ډېرو هڅو وروسته هم ونه توانېدی چې ویې غولوي. په پای کې میر علي وغوښتل چې په خپله مخه یې پرېږدي او بېرته ترې راوګرځي. خو مقابل سړي په ټوکه کې ورته وویل چې دومره ژر چېرته روان یې؟ د هغه پر دې خبره میر علي شکمن کېږي او هماغه کوډ کاروي، او هغه سړی یې هم سم ځوابوي. د دوی تر منځ کوډ دا وو چې یوه به بل ته ویل: ((علي خان بابي سلام)) او د دې ځواب ((سلام علیکم)) وو؛ که به چا سم ځواب ورکړ نو په دې معنا چې دوی دواړه ټګان دي، ځکه پر دې کوډ له ټګانو پرته بل هېڅوک هم نه پوهېدل.

ټګانو به د خپلو فعالیتونو په اړه خپلو کورنیو، ښځو او ماشومانو ته هم څه نه ویل. دوی به خپل ټول کارونه په پټه توګه ترسره کول او هر کله به چې له خپل کار څخه اوزګاره شوو نو په ټولنه کې به یې د عادي وګړو په څېر ژوند کاوه. دوی به خپل ماشومان هغه وخت خپل مسلک ته ور ګډول چې بالغ به شوو او له هغه وروسته به یې د ټګۍ چلونه او طریقې ور ښودل. د سید میر علي په څېر د ټګانو لوی سردار به هم چې کله د ټګۍ پر سفر وتی نو خپلې ښځې او ماشومانو ته به یې ډول ډول بانې کولې او دروغ به یې ورته ویل، که څه هم له خپلې ښځې او ماشومانو سره یې ډېره زیاته مینه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټګۍ کړنلاره

**د ټګۍ ټول چلونه ډېر حیرانوونکي او په زړه پورې وو. کله به چې ټګانو کومه قافله ولیده نو په څلورو ډلو به ووېشل شوو. لومړۍ ډله به راغله له مسافرو سره به یې خبرې اترې پیل کړې. هغوی ته به یې ځانونه مسافر وښودل او کومې خواته به چې مسافر تلل، دوی به هم هماغه لوري ته ورسره روان شوو. په لاره کې به یې له هغوی سره ټوکې ټکالې کولې، کیسې به یې کولې او هغوی ته به یې داسې ښودل چې ډېر ور نږدې او ملګري یې دي. له پردیو مسافرو سره د ملګرتیا په کولو کې دوی ډېر زیات مهارت درلود او په ټګانو کې به هغه کس ډېر ښاغلی وو چې د نورو د باور په لاسته راوړو کې به یې ښه تکړه وو. کله به چې لومړۍ ډلې د مسافرو اعتماد او باور ترلاسه کړ نو نوبت به دوهمې ډلې ته ورسېد.**

**دوهمې ډلې به د لارې پر سر خېمې ودرولې وې او تېرېدونکو ته به یې ښودل چې دوی هم د لارې مسافر دي او په دې ځای کې د دمې او ارام لپاره تم شوي دي. کله به چې لومړۍ ډله له مسافرو سره راورسېده نو دوهمې ډلې به ورته د ډوډۍ بلنه ورکړه او په ډوډۍ کې به یې د بې هوښۍ درمل ګډ کړل او په دې ډول به یې ټول مسافر بې هوښه کړل. سره زر، سپین زر، پیسې، جامې او داسې نور هر څه به یې له جېبونو را وایستل.**

**له دې کار وروسته به وار دریمې ډلې ته ورسېد. دریمې ډلې به د هغو رومالونو په وسیله چې مخکې یې یادونه وشوه، د مسافرو غاړې ور ټینګې کړې او زندۍ به یې کړل. ښایي تاسې ووایئ چې دا کار خو دوهمې ډلې هم کوی شوی، نو دریمې ډلې ته څه اړتیا وه. خو مخکې هم وویل شو چې د ټګانو کار به ډېر منظم او له پلان سره سم پرمخ تلی او دغه راز خپلو قواعدو او اصولو ته ډېر ژمن خلک وو. دسمال یوازې هغه چا کارولی شوی چې د ډلې مشر به ورته اجازه کړې وه او په ډله کې به رومال کاروونکي معلوم وو او هر چا دا کار نه شوی کولی او نه هم دا کار هر چاته سپارل کېدی.**

> ((د دوی یو بل رسم د رومال کارولو په اړه وو. هېچا هم دا اجازه نه درلوده چې مخکې له دې چې سردار ورته اجازه وکړي ، رومال وکاروي. کله به چې کوم ټګ په رومال کارولو کې سم وروزل شو او د خپلې زړورتیا ، حوصلې ، همت او قوي اعصابو ثبوت به یې وړاندې کړ نو د ټګانو مشر به د یوې غونډې په ترخ کې دا رومال ورته سپاره او دعا به یې ورته کوله چې خداینه په چارو کې ملتیا ورسره وکړي او تل یې بریا په برخه وي.
>
> په دې دود کې بریا همداسې وه لکه یو چاته چې د ((نایټ 3)) خطاب ورکول کېږي ، ځکه دې بریا به د ټګ د هیلو په پوره کولو او په خپلو ملګرو کې یې د عزت او درناوي د زیاتولو په برخه کې کومک ورسره کاوه او له دې ویاړ څخه به ورته د زړورتیا او مېړانې

---

[3] نائټ یو انګیسي خطاب دی چې انګرېزانو به خپلو تکړه او زړورو پوځیانو ته ورکاوه. [لیکوال]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثبوت په لاس ورتلی. له دې نه علاوه کله به چې يې يو څوک ووژل نو د ده برخه به هم د نورو په پرتله زياته وه.

د دې دود لپاره به کانديد کابو ۴۰ روپۍ لګښت کاوه. دا دود به کوم پخواني ټګ پر ځای کاوه چې د ټګۍ له مسلک څخه به يې تقاعد اخيستی وو. په دې کې به د مسلمان او هندو توپير نه وو ، هر تقاعد اخيستي مشر دا کار کولی شوی. دې ټګ ته به د ده زده کوونکو وخت پر وخت ډالۍ او نذرونه وړاندې کول. په ډېری کړکچېنو معاملاتو کې به يې مشورې ورسره کولې او د هغه رايې ته به يې په درنه سترګه کتل. ډېری ځوانانو به دا رسم د شل کلنۍ په عمر کې بشپړاوه. دا به هغه کسان وو چې له ماشومتوب څخه به له ټګانو سره وو او د غرغره کولو پر مهال به يې له هغوی سره کومک کاوه. په ټګانو کې د هغو خلکو لپاره چې په لوی عمر کې به يې په دې ډله کې ګډون کړی وو ، د رومال کارول سخت وو او دې خلکو به د څوکيدارۍ ، قبر کينۍ او مړو خښولو دندې ترسره کولې.))

کله به چې دريمې ډلې خپل کار بشپړ کړ نو څلورمې ډلې به مخکې له مخکې لا قبر کيندلی وو او ټول به يې په يوه قبر کې خښ کړل، په قبر کې خښول يې هم څه په انساني طريقه نه وو بلکې د دې لپاره چې قبر به يوازې ژور وو، سور او اوږدوالی به يې دومره زيات نه وو او مړی به پکې سم نه ځايېده نو کله به يې مړي ټوټې ټوټې کړو او قبر ته به يې ور واچول او کله به يې د ملا تير او د پښو هډوکي ور مات کړو او غبرګ به يې په قبر کې کېښودل او خاوره به يې پرې واچوله او د دې لپاره چې څوک پوه نه شي يو څه شګه به يې هم د قبر له پاسه وشيندله.

ټګانو د هرې قافلې او هر مسافر لپاره يوازې همدا يوه تګلاره نه کاروله بلکې د هر مسافر لپاره به يې له بېلو بېلو طريقو او چلونو کار اخيسته؛ ځکه که دوی همدا يوه طريقه کارولی نو دوی نه شوی کولی چې په دې ډګر کې دومره زيات ژوند وکړي او ډېر ژر به نيول شوي وو.

دلته به يوې بلې موضوع ته هم لنډه اشاره وکړو هغه دا چې د ټګانو کارونو ته په کتو د انسان په ذهن کې هغوی د ظالمو، وحشي او بې وجدانه انسانانو په بڼه انځورېږي، دوی همداسې وو هم او نه هم وو. يعنې د دوی شخصيت د سکې د دوو مخونو په څېر وو چې هرې خوا يې له بلې سره د ځمکې او اسمان توپير درلود. که د دوی ټګۍ ته وګورو نو دوی ته څوک انسان نه شي ويلی خو که د دوی شخصي ژوند، چلند، کورني ژوند او داسې نورو ته پام وکړو نو ويلی شو چې دوی د خپلې ټولنې تر ټولو ښه وګړي وو. د ټګانو د شخصيت د منفي څېرې په اړه ټول کتاب ډک دی خو د دوی د مثبت اړخ په اړه به د سيد مير علي له خولې خبرې واورو چې د ټګانو د شخصيت پر مثبت اړخ د نه منلو خبرې کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((خلک زموږ په اړه فکر کوي چې موږ د نورو انسانانو په څېر له خپلو ښځو او بچیانو سره مینه نه لرو. آیا زه د خپلې ښځې ((عظیمې)) پر مړینې خپه نه شوم. زما په سینه کې هم د نورو خلکو غوندې له مینې ډک زړه دی چې د خپلو خپلوانو ، ملګرو او کورنۍ پر خوښۍ خوشاله کېږي او د هغوی په غمونو غمجن کېږي. زما چلند له هر چا ډېر غوره دی. کوم داسې شخص شته دی چې زما پر عزت او درناوي یرغل کول وغواړي؟ آیا ما کله له کوم ملګري یا دښمن سره دوکه کړې؟ د مذهب خلاف مې کله کوم کار کړی؟ د چا حقونه مې تر پښو لاندې کړي؟ آیا تر ننه مې غلا کړې؟ پر کومې ښځې مې تېری کړی؟...))

**د سید میر علي دا خبرې رښتیا دي، ټګان د ځان، کورنۍ او خپلې ټولنې لپاره تر ټولو ښه وګړي وو، خو د ټګۍ پر مهال دوی انسانان نه، بلکې له داړونکو ځناورو هم بدتر وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټګانو د ټګۍ بيلګې

**(۱)**

**راځئ د مسافرو له يوې ډلې به د هغوی کيسه واورو چې ټګان په څه ډول ورسره مخ شوو او څه يې ورسره وکړل:**

((له سفر نه درې يا څلور ورځې ورسته په لاره کې د سندرمارو له يوې ډلې سره مخ شوو ، هغوی له موږ غوښتنه وکړه چې د حفاظت په پار يې له ځان سره په سفر کې را شريک کړو. په دوی کې له دوو سره رباب ، له څلورو سره ګيټارونه او له دوو سره تمبورې وې. هغوی ويل چې نږدې کلي ته د واده لپاره روان دي.

تر يو څو ورځو پورې حالات له معمول سره سم روان وو او سندرمارو په خپل فن سره زموږ سات را تېراوه. خو په څلورمه شپه زما د ماما سترګه را خلاصه شوه او ويې وليدل چې د سندرمارو ډله يو ځای غونډه شوې او په يوې ناپېژانده ژبې پس پسی کوي. ماما مې د هغوی له حرکاتو پوه شو او سمدلاسه يې خپل پوځيان راويښ کړل او ورته ويې ويل چې زه پوره ډاډه يم چې دا سندرمار په حقيقت کې ټګان دي. له دې وروسته ماما مې له موږ نه يوه تن ته دنده وسپارله چې کله نور ويده وي ، هغه به څوکيداري کوي.

په سبار ورځ زما ماما سندرمارو ته وويل چې موږ له دمې پرته اوږد واټن وهل غواړو ، له همدې کبله دا امکان نه لري چې موږ تاسې له خپل ځان سره کړو. که څه هم سندرمارو په زاريو زاريو له موږ غوښتنه وکړه چې له ځانه يې بېل نه کړو ، په دې چې دوی وېرېږي څوک يې ونه شکوي. خو زما ماما يې هېڅ پروا ونه وکړه او په سبا ورځ سهار وخته په سفر روان شوو او سندرماران مو شاته پرېښودل. له اته ميله واټن وهلو وروسته يوې ورې لارې ته شوو او فکر مو وکړ چې له دېرش ميله واټن وهلو وروسته به ببرته لويې لارې ته برابر شو.

له دې وروسته تر څلورو ورځو پورې خو داسې څه خاص راپېښ نه شول ، خو په څلورمه شپه کله چې موږ د ارام لپاره يو ځای تم شوو نو تقريباً د يوولسو کسانو يوه ډله زموږ خواته راغله چې د چيلم جوړولو بانسونه ورسره وو. هغوی هم د سندرمارو په څېر موږ ته زاری کولې چې موږ هم د حفاظت په پار په خپل سفر کې در ګډ کړئ. په دوهمه ورځ سهار کله چې مې دې نوو کسانو ته وکتل نو ګمان مې وکړ چې په دوی کې يو تن هماغه دی چې د سندرمارو په ډله کې وو. سمدستي مې خپل ماما ته د دې خبرې يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه. هغه سمدستي خبرې اترې پیل کړې. خو دوی له پخوانۍ ډلې سره یو توپیر درلود هغه دا چې د دوی ژبه له سندرمارو څخه بېله وه. د دوی جامې ډېرې خیرنې وې او په سترګو هم باندېیان یا سامان اوچتوونکي ښکارېدل ، خو له دې وروسته زما ماما یوه عسکر ته دا دنده وسپارله چې هغه دې څوکیداري کوي او له هغوی دې نه بې پامه کېږي.

په دوهمه شپه زه هېڅ ویده کېدی ونه شوم ، په دې چې زه ډاډه وم چې دا خلک هماغه ټګان دي. خو له زیاتو هلو ځلو وروسته هم د ستړیا له امله ویده شوم. لږ ځنډ وروسته زما سترګه خلاصه شوه او داسې غږ مې واورېد لکه د سهار له خوا چې چرګ اذان کوي. زه سمدستي پورته شوم او ومې لیدل چې زموږ د سفر نوي شریکان د ویدو کسانو چار چاپېر راتاو دي. ما بې له ځنډه په لوړ غږ چیغه کړه. زما په چیغه ماما سمدستي توره ته لاس کړ او په خپل ځای ودرېد او د ټګانو په لور یې ور منډه کړه. که څه هم دا هر څه د سترګو په رپ کې وشوو ، خو په همدې وخت کې هغوی د ((دېو ناراین)) د ورور غاړه په ورېښمین رومال غرغره کړې وه او په همدې ډول یې ((تلک وري)) هم تر بې هوښۍ رسولی وو ، خو د هغه ژوند زما د ماما له لاسه وژغورل شو ، چې ټګ یې دوه ټوټې کړ. د دې په لیدو نور ټګان له هغه ځایه وتښتېدل او د بانسونو ګېډۍ یې هماالته پرېښودې ، خو په همدې یو څه ځنډ کې ټګانو زما د ماما د سرو زرو تنۍ چې نرخ به یې ۲۵۰ روپۍ وو او د ((تلک وري)) ټوپک تښتولي وو. په اصل کې ملامتیا د ((تلک)) وه چې د څوکیدارۍ پر مهال ویده شوی وو.

له دې وروسته سمدلاسه نږدې کلي ته لاړو او ویده خلک مو راپاڅول ، خو له هغوی یو هم دې ته چمتو نه شو چې له موږ سره په هغو قاتلانو پسې ووځي ، له همدې کبله پاتې شپه مو له کلي دباندې تېره کړه. د ((دېو ناراین)) د ورور جسد هم له موږ سره وو. بله ورځ مو د خپلې استوګنې پر ځای بانسونه هماغسې وموندل ، ماما مې هغه ټول پر یوه تمباکو پلورونکي په ۴۶ روپو وپلورل.))

**(۲)**

**لطف الله په خپله اتو بیوګرافي (ځانپېښې) کې د یوه ټګ په اړه کیسه کوي چې دی ورسره مخ شوی وو. د ټګ نوم جمعه وو او غوښتل یې چې لطف الله هم وشکوي خو چې پوه شو پیسې او زر ورسره نشته نو خپل ځان یې ور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وپېژانده او ترې ويې وغوښتل چې دی هم په ډله کې ور ګډ شي او ښې پيسې وګټي؛ جمعه ټګ په همدې لړ کې لطف الله ته د ټګۍ مسلک ورپېژني:**

((د يو چا وژل سخت کار نه دی. سخت کار دا دی چې يو څوک وغولوې او هغه ځای ته يې راولې چېرته چې بايد د هغه کار ور خلاص کړې. د دې کار لپاره موږ له ډول ډول چلونو کار اخلو. د مسافرو د باوري کولو په موخه کله موږ د سوالګو په شکل د هغوی څنګ ته ورځو ، کله د هغوی د لاربښوونې دنده ترسره کوو او کله هم د يوه دلال په توګه ورته څرګندېږو چې هغوی ته ښځې ورکړو. د کومې ښځې يادونه چې تاته کوم ، هغه د همدې وروستي هدف يعنې د مسافرو د غولولو لپاره وي. هغه د مسافر پام خپل ځان ته ور اړوي ، په ناز او نخرو يې اغېزمنوي او بيا يې له لويې لارې يوې خواته کوي. له دې وروسته هغه دا بانه کوي چې ستړې شوې او غواړي دمه واخلي. په دې توګه د کومې ونې سيوري ته کېني او سګرټ يا چلم څکول پيل کړي.

په همدې وخت کې له موږ څنې يو څوک هلته ور ورسېږي ، په مسافر دا خبره ډېره بده لګېږي خو ښځه يې په دې خبره ډاډه کړي چې دا مې مېړه يا ورور دی او له اور اخيستو وروسته به بې له ځنډه لاړ شي او موږ به خبرې اترې وکړو. د خبرو پر مهال ښځه داسې ورته څرګندوي چې د سړي د راتګ پېښنه هسې ناڅاپه رامنځته شوه ؛ بيا د خپل بدن کومه برخه ورته بربنډوي چې د مسافر ټول پام هغې خواته واوړي او په دې وخت کې له موږ څخه يو کس د مسافر په غاړه کې رومال ور واچوي او سمدستي يې غاړه ور ټينګه کړي. کله چې يې سا ووځي ، تلاشي کوو يې او بې له ځنډه يې خښوو.))

**جمعه ټګ د خبرو په اوږدو کې، چې دی يې په ډېر خوند لطف الله ته کوي خو لطف الله د ده له خبرو تر پوزې رسېدلی وي خو څه چاره نه لري، زياتوي چې دې مسلک ته له راتګ وروسته مې يو ځلې له دې مسلک څنې سخته کرکه وشوه:**

((هغه داسې چې يو ځلې په يوه ملا پسې له ((کوټې — د سيمې نوم)) تر ((اودې پور)) پورې لاړم. د سفر په لومړۍ ورځ هېڅ وار په لاس رانغی چې کار يې ور خلاص کړم. ماښام هغه خپلو ملګرو ته ورغی ، هلته زه نه شوی ورتلی. دوهمه ورځ سهار وخته موږ دواړو سفر پيل کړ ، کله به هغه له ما مخکې شو او کله زه. له لږ واټن وروسته د سهارنې لپاره يو ځای تم شو او کله چې چې يې زما خوار حالت وليد نو له خپلې ډوډۍ څخه يې ماته هم يوه ټوټه راکړه. ما د هغه د ډاډېينې او خوښۍ لپاره هغه ټوټه په ډېر شوق ترې واخيسته خو ومې نه خوړه په دې چې ما نه غوښتل هغه څوک ووژنم چې ما يې مالګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوړلې وي ، ځکه چې دا کار نمک حرامي ګڼل کېږي. هغه ته مې وویل چې زه ((اودې پور)) ته روان یم تر څو هلته کار را ته پیدا کړم. ځواب یې راکړ چې: ((خدای دې په خپلو هڅو کې بریالی لره.))

له ناشتې وروسته هغه روان شو ، زه هم ور پسې شوم. کله چې د مازدیګر د لمانځه وخت شو نو له ما یې وپوښتل چې آیا دلته کوم داسې ځای شته چې اوبه پیدا شي ترڅو اودس وکړم که نه نو له تیمم نه به کار واخلم. ومې ویل له دې ځایه لږ لرې یوه چینه ده ؛ هغه رانه د لارې ښودنې هیله وکړه. ورته مې کړل چې په ما پسې راځه. کله چې چینې ته ورسېد ، اودس یې وکړ او د لمانځه لپاره ودرېد ، د رکوع په حالت کې وو او په هماغه وخت مې غاړه په رومال ور غرغره کړه. کله چې مې وتوشپه (تلاشي کړ) نو ډېر زیات نهیلی شوم ځکه یوازې یوه پیسه مې ترې ترلاسه کړه ، له دې پرته تسپې او د ډوډۍ یو څو ټوټې ورسره وې. همالته مې خښ کړ او بېرته هغه کلي ته راغلم ، چېرته چې مې له خپلې مور سره د لیدو ژمنه کړې وه.

ما دا ټوله کیسه خپلې مور ته وکړه او ومې ویل چې فکر کوم دا مسلک باید پرېږدم ځکه چې د بېګناه خلکو په وینو د لاسونو له رنګولو دا ښه ده چې له لوږې مړ شم.

د هغې دا خبرې خوښې نه شوې. زما له لاسه یې هغه یوه پیسه واخیسته ، بازار ته لاړه او له هغه ځایه یې نیمه کیلو واړه کبان راوړو او زما مخې ته یې کڅوړه کېښوده او راته یې وویل: ((آیا دا واړه واړه شیان شمېرلی شې؟))

ومې ویل: ((هو ، خو د شمېرلو لپاره یې زیات وخت ته اړتیا ده او د شمېرلو ګټه یې څه ده؟)) په دې خبره یې ځان ته مخاطب کړم او ویې ویل: ((بې عقله هلکه ، وګوره د یوې پیسې لپاره څومره ساوې ضایع شوې دي او ته بې عقل ، بې زړه او کمزوری د یوه ملا د وژلو له امله پرېشانه یې ، چې یوه پښه یې مخکې لا په قبر کې وه.)) بیا یې په ټینګار سره وویل: ((که یو زمری په خپل ښکار زړه وخوږوي ، نو دا په دې معنا ده چې زمری باید وږی مړ شي.))

جمعه ټک وویل چې: ((د دې ښځې د نصیحت له امله مې له لاسه ورکړی باور بېرته بیاموند او بیا مې هېڅکله هم له خپل مسلک څخه کرکه نه ده کړې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی ټګ

**د دوی د نورو دودونو په څېر په ډله کې د نوي ټګ د شاملولو دود او طریقه هم په زړه پورې ده. دلته به د سید میر علي چې وروسته بیا د ټګانو مشر شو، کیسه واورو چې په څه ډول په ډله کې ورګډ شو:**

((د دسهرې په ورځ یې په خپله ډله کې زما د ورګډولو دود پیل کړ. له هر څه مخکې یې غسل راکړ او نوې جامې یې را واغوستې او د ټګانو مشر یوې کوټې ته بوتلم ، په کوټه کې ټول سرداران په فرش ناست وو. له ټولو ناستو خلکو یې پوښتنه وکړه چې آیا دوی واړه چمتو دي چې په خپله ډله کې مې ورګډ کړي او که نه ؟ ټولو دې پوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ. بیا یې یوه میدان ته بوتلم او زما مشر اسمان ته خوله ونیوله او په لوړ غږ یې وویل: ((اې زما مشرې بهوانې! ، دا نوی زده کوونکی په خپلې پناه کې واخله او کومه داسې نښه راوښایه چې موږ پوه شو چې په خوښی دې ومانه.))

موږ تر ډېره په تمه وو.په پای کې یو کونګ له نږدې ونې وچغېده او ټولو خلکو چیغې کړې. ((جې بهواني! بریا د بهواني)) زما مشر وویل: ((زویه! ته ډېر نېکمرغه یې ، آیا داسې نښه هم د چا په برخه کېږي ؟ ما هېڅ د دې تمه نه لرله.))

له دې وروسته یې بېرته خپل اطاق ته راوستم او یو رومال چې د غشي نښه پرې جوړه وه زما په ښي لاس کې راکېښود. غشی د ټګی سپېڅلې نښه وه. او له امر سره سم مې تر سینې پورې را اوچت کړ او د وفادارۍ لوړه مې وکړه. بیا مې قرآن کریم په لاسونو کې راواخیست او همدا ډول ژمنه او لوړه مې ترسره کړه. لومړی قسم د مسلک اړوند وو او دوهم د مذهب. له دې وروسته یې ګوړه راباندې وخوړه او ټولو مبارکیانې راکړې. هغوی زه مخاطب کړم او ویې ویل: ((زویه ، له نن نه په دې ډله کې شامل شوې چې د نړۍ تر ټولو پخوانۍ مذهبي ډله ده. تا د زړور ، وفاداره او رازداره پاتېدو قسم کړی. له نن نه وروسته ته د هر انسان دښمن یې او هر شخص پرته له تردیده وژلی شې. خو هو ، زموږ په نزد د دې خلکو وژل ناروا دي او د هغوی وینه خداینه هېڅکله هم نه بښي. ته هېڅکله هم د جامې وینځونکي ، سیک ، مداري ، سوالګر ، رندۍ ، هجړا ، چرسي ، پښې ، نجار ، پیس او جذام په وینو لاسونه مه رنګوه ، له دې پرته د دېوي له نښې ترلاسه کولو وروسته لوی تر لوی کس هم وژلی شې. ښه نو ، ته له نن نه وروسته ټګ یې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ومې ویل: سمه ده ، اوس به زه یوازې دې ته په تمه یم چې څه وخت د کار موقع راکول کیږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په خپلو کارونو نه پښېمانتیا

**د ختیځ هند کمپنۍ یوه جنرال یوولس ټګان ونیول او په محکمې کې د اعدام سزا ورته واورول شوه.**

((کله چې د اعدام نېټه را ورسېده ، د هماغې ورځې په سهار کله چې لمر راوخوت ، یوولس واړه یې له بندیخانې را وایستل. په غاړو کې یې امېلونه پراته وو او په ډېر ډاډ او ارامتیا د اعدام تر تختې پورې لاړل. پر څېرو یې هېڅ ډول پرېشاني او وارخطایي نه ښکارېده.

کله چې هر یو د پړي مخې ته ودرول شو ، نو په څېرو کې یې خوښي را ښرګنده شوه او ټولو یو ځای لاسونه پورته کړل او په ګډه یې نعرې کړې: ((جې بهواني ، جې بهواني!!)) که څه هم په هغوی کې څلور مسلمانان ، یو برهمن او دوه راجپوت او له نورو هندو ذاتونو څخه وو ، خو د ټولو نعره یوه وه. له دې وروسته د اعدام تختې ته ورغلل او په خپلو لاسونو یې د اعدام پړي په غاړو کې واچول او یو ځل بیا یې د بهواني نعرې کړې. د اعدام پړي یې په غاړو کې واچول ، سم یې کړل او ځوانو اعدامېدونکو په نندارچیانو پورې خندل.

په دوی کې یو مسلمان د اعدام له ناوخته کېدو دومره ناارامه شو چې پړی یې په خپله تنګ کړ او را ځوړند شو او داسې یې خپل ځان وواژه لکه یو څوک چې له لوړ ځایه په سیند کې د لامبو وهلو لپاره ټوپ اچوي. دا هغه شخص وو چې په ((عمر پتن)) سیمه کې یې د شپېرو مسافرو غاړې غرغره کړې وې. له هغه وروسته بیا بلې ډلې ته لاړ او له هغو سره یې په ((بوپال)) کې دېرش مسافر ووژل ، او تېر آخر ونیول شو. کله چې قاضي له اعدامېدونکو د هغوی وروستۍ هیله وپوښتله نو ویې ویل چې د هر یوه په بدل کې پنځه مجرمان له بندیخانې خوشي کړئ او له هغوی سره چې څه لږ او ډېرې پیسې وي ، هغه صدقه کړئ.))

**د آدم علیه السلام له زمانې نیولي تر نن ورځې پورې د ځمکې پر سر زرګونه د قتل پېښې شوې، ځینې د پیسو په مینه کې شوې، ځینو بیا د کینې، حسد، مینې، غچ، ملګرتیا یا وېرې له امله دا جرم ترسره کړی؛ خو له پیل نه تر اوسه پورې د وژونکي ژوند زیاتره په غم او درد کې تېر شوی. د هغه ضمیر تل هغه ملامت کړی او وروستۍ پایله یې دا شوې چې یا خو یې خپل ځان د مقتول وارثانو ته سپارلی یا یې ځانوژنه کړې، که نه په همدې غم کې د کړېدو له امله هلاک شوی. موږ په کتابونو کې همدا لوستي او تجربه مو هم همدا راته وایي. خو د ټګانو طبقه بیخي عجیبه او بل شان وه. نه یې ضمیر ملامتول، نه نفس لوامه (ملامتوونکی نفس) ورته څه ویل. که به ونیول شوو نو ډېرې په ازادۍ به یې خوارک څښاک کاوه، ملګرو ته به یې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپلو کارنامو کیسې کولې او تیار به ناست وو چې څنګه له بندیخانې خوشي شي، خپل کار ته دوام ورکړي. د دوی اړوند تر ټولو عجیبه خبره خو دا وه چې هندوان او مسلمانان دواړه به ګام پر ګام مخته تلل او دواړه به په یو ډول توهماتو کې اخته وو. د هندوانو په نزد بت لمانځنه څه د حیرانتیا وړ نه ده، خو د مسلمانانو دا ډول یو عمل ترسره کول یوه معما ده. په داسې حال کې چې هغوی د لمانځه او روژې پابند هم وي. د هغوی په قرآن کې خو د عَمدي قتل اړوند ډېر سخت تعزیري احکام هم شتون لري.**

**د اعدام پر مهال د بهواني نعرې دا معنا لرله چې دوی خپل جرمونه ومنل ځکه چې د ټګ مذهب که هر څه وي او له هرې فرقې سره یې اړیکه وي، پرته له بهواني له بل کوم خدایه یا خداینې مرسته نه غواړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له ټګانو سره خبرې

د ټګانو په اړه د لا زیات پوهاوي لپاره له ځینو ټګانو سره مرکه کوو. په مرکه کې به ترې د دوی د شخصي ژوند، د ټګۍ د رازونو او د دوی د شخصیت په اړه ګڼې خبرې اترې وکړو او هڅه به وکړو چې د دوی پټ اړخونه راوسپړو او له ګڼو رازونو یې پردې اوچتې کړو.

- د دسهرې دود څه ځانګړتیا لري چې هندوان او مسلمانان ټول یې نمانځي؟

سید میر علي وویل:

- اوه! ته خبر نه یې چې زموږ مسلک د خدای له خوا موږ ته راکول شوی. دا مسلک زیاتره د هنود والو اړوند دی. هماغو دا مسلک را ښودلی.
- نو بیا خو لا د حیرانتیا خبره ده چې ته یو مسلمان او بیا سید یې او د هندوانو د خدایانو عبادت کوې.
- نه، دا خبره نه ده. دا چې ټګي د هندوانو مسلک دی او دا مسلک ځینې خاص اصول لري. له همدې امله موږ مسلمانان هم چې کله دې مسلک ته راځو نو د دې اصولو پابندي پر موږ هم لازمېږي. دا زموږ پر مذهب کوم اغېز نه لري. هو، د دې اصولو له منلو زموږ په عاید کې برکت او زیاتوالی خامخا راځي.

- زما پوښتنه دا ده چې  مسلمانان د هندوانو دودونه ولې نمانځي؟
- ټول یې نه، یوازې د دسهرې دود نمانځي. علت یې دا دی چې زموږ د کار لپاره د دسهرې زمانه ډېره مناسبه ده او له همدې امله هندوانو ډېر ارزښت ورکړی. په حقیقت کې اړتیا دا ده چې زه باید تا ته د ټګۍ د شتوالي علت وښایم. هنود وال په دې عقیده دي چې په پیل کې د کایناتو خالق دوه ډوله ځواکونه پیدا کړل، یو ((جوړوونکی)) او بل ((ورانوونکی))؛ خو دوهم ځواک له لومړي ځواک سره یو ځای پاتې نه شو او ترې بېل شو. د همدې لپاره ((معبود مطلق)) ، ورانوونکي ځواک ته د هر ډول ممکنې وسیلې کارولو اجازه ورکړه. په همدې وخت کې د معبود مطلق ښځې، بهواني یا کالي دېوي یوه ښځه پیدا کړه او هغې ته یې د مرګ پوره واک ورکړ. د بهواني پیروان ټګان بلل کېږي او دېوي په خپلو لاسونو د هغې ښځې په وژلو د انسانانو د وژلو یوه نوې لاره را وښوده. بیا یې خپل ټول پیروان دنیا ته راولېږل او ویې ویل چې:
((لوټماري پیل کړئ او د دنیوي ګټې لپاره د غنیمت مالونه د ځان په ګټه وکاروئ، پاتې شوه د وژل کېدونکو جسدونه، په هغوی کې زه ستاسې ملاتړې یم او تاسې به زما لپاره خپل کار ته ادامه ورکوئ.))
په دې پېښې مودې تېرې شوې خو دېوي به تل خپل پیروان د قانون له منګولو ژغورل او د هغوی شمېر ورځ تر بلې زیاتېده. خو ورو ورو د ټګانو په عقیدو کې کمزوري راغله. یوې ډلې د خداینې پر ځواک شک وکړ او ویې ویل چې بهواني په څه ډول جسدونه خوندي کوي. بل وویل، راځئ وبه یې آزمایو. یو کس ووژنئ او په وښو کې پټ شئ او وګورئ چې دېوي له دې جسد سره څه کوي. دوی همداسې وکړل، یو کس یې وواژه او نږدې په وښو کې ورته پټ کېناستل. خو د دېوي له سترګو کله ژغورل کېدی شوی! هغې هر څه ولیدل او په ډېرې غوسې یې وویل: ((بدبختو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په اړه مو شک وکړ، اوس د دې سزا دا ده چې له نن نه وروسته مو زه هم د قانون له منګولو نه ژغورم. فکر کوئ چې زه له جسدونو سره هېڅ هم نه شم کولی، نو له نن نه وروسته به په رښتیا هم څه نه کوم، د هغوی کفن او خښول به هم ستاسې پر غاړه وي. زه به مو ملاتړ او کومک خامخا کوم خو یوازې په ځینو اشارو چې د فال په نوم یې پېژنئ.)) له دې وروسته دېوي ورکه شوه خو هغه خلکو د خپل لېونتوب سزا ولیده. دا رښتیا ده چې دېوي پر مورِ پام ساتي خو ځینې وختونه د وژل کېدونکو جسدونه وموندل شي او په ټګانو شک کېږي خو د دې علت زیاتره د دېوي خپګان یا د هغې له نښو بې پروايي وي. همدا علت دی چې سره له دې چې مورِ مسلمانان یو د هغې د خپه کولو زړورتیا نه شو کولی. مورِ د خپل مذهب پابندي کوو، روژه نیسو او پنځه وخته لمنځونه کوو، خو ورسره دېوي هم منو. که په دې کې څه قباحت (بدي) وی نو خدای به راته په غوسه شوی وو او کارونه به مو سم نه ترسره کېدل. خو وینې چې دا ډول هېڅ خبره نشته. مورِ ټول- هندوان او مسلمانان- آزاد او خوشاله یو. له دې نه ښکاري چې خدای مو هم پر دې عمل ناخوښ نه دی.

- ښه نو د ټګانو سرداره، یو څو خبرې به له تاسره وکړو، باور مې نه کېږي چې ۹۴۱ خلکو غاړې دې غرغره کړې او وژلي وي، ۹۴۱ قتلونه؟ زه باور لرم چې پر تا به د دومره لوی شمېر وژنو الزام لګول هم سخت وي؟
- بهرام خان په ډېر ادب ځواب ورکړ: ښاغلیه! له دې نه پرته د قتل نورې پېښې هم شته، وروسته خو یې ما شمېرل پرېښودل.
- آیا د خلکو په وژلو پښېمانه کېږې نه، مطلب مې دا دی چې لومړی به دې ملګرتیا ورسره کوله، بیا به دې د خوندیتوب احساس هم ورکاوه؟
- نه هېڅکله هم نه، آیا ته په خپله یو ښکاري نه یې. او آیا تاسې په ښکار پسې د منډې پر مهال نه خوشاله کېږئ چې د ښکار د ایسارولو لپاره له ډول ډول چلونو او طریقو کار اخلئ او آیا هغه وخت د خوښۍ او خوشالتیا احساس نه کوئ چې ښکار مو په پښو کې مړ پروت وي؟ نو د ټګانو لپاره هم د خلکو تعقیبول، دوکه ورکول او وژل د ښکار یو ډول دی.

هو، ښاغلیه! ستاسې لپاره خو دا آسانه ده چې د ښکار په لیدو خپل احساسات کنترول کړئ او خپل جذبات ښکاره کړئ، خو مورِ ټګان باید د هوښیارو ښکاریانو - چې ښځې او نر دواړه پکې وي - پر وړاندې په خپل ځان کنترول ولرو. زمورِ ښکاریان په وسلې سنبال وي، مطلب دا چې زمورِ ښکاریان د دې وړ وي چې دفاع وکړي، د همدې لپاره یوازې د چالاکۍ او چاپلوسۍ په وسیله یې را لاندې کولی شو.

ښاغلیه! تاسې دا اټکل نه شئ کولی چې مورِ هغه وخت څومره خوشالېږو چې ښکار مو په پناه کې ورځ تېروي او مورِ ګورو چې په څه ډول د هغه شک او تردید په ملګرتیا او باور بدلېږي، تر دې چې هغه په زړه پورې شېبه راشي چې رومال د هغه ښکاري کار پای ته ورسوي- دا نرم او پوست رومال –((بهرام خپل رومال ته ګوري)) چې په سلهاوو ژوندونه یې له منځه وړي. پښېمانتیا؟! نه ښاغلیه، هېڅکله هم نه. هو، د خوښۍ او فخر احساس مو خامخا کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راځئ اوس به له یوه مسلمان ټګ سره یو څو خبرې ولرو.**

- **آیا بهواني مو له جنت یا د جنت له تصور سره څه اړیکه لري؟**
- **نه هېڅ اړیکه نه لري.**
- **آیا ټګی مو د آخرت پر ژوند څه اغېزه لري؟**
- **نه.**
- **آیا پیغمبر ﷺ مو د دې جرمونو، لکه ته یې چې کوې، اجازه درکړې؟**
- **نه.**
- **آیا هغه دا ویلي چې پر دې جرمونو به په آخرت کې سزا درکول کېږي؟**
- **هو.**
- **نو بیا ته ولې؟ آیا د آخرت له هغې سزا څخه نه وېرېږې؟**
- **نه، ځکه چې موږ یو څوک تر هغې نه وژنو تر څو چې د هغه اړوند یو سم فال مشاهده نه کړو او موږ دا سم فال د خدایښې له خوا اجازه لیک ګڼو.**
- **کومه خدایښه؟**
- **بهواني.**
- **خو همدا اوس دې وویل چې بهواني دې د آخرت له ژوند سره هېڅ ډول اړیکه نه لري؟**
- **هو نه یې لري. خو هغه په دې دنیا کې زموږ پر تقدیر واکمنه ده او په دې دنیا کې چې په هر ډول چارو امر کوي، موږ باور لرو چې په آخرت کې به خدای پر هغو سزا را نه کړي.**
- **آیا ښځې مو پر دې کارونو بد رد نه درته وایي؟**

**صاحب خان وویل:**

- **د هند په سوېل کې موږ خپلو ښځو ته خپل رازونه نه څرګندوو ځکه کېدی شي هغوی دا راز افشا کړي.**
- **او که یې ورته ووایې نو آیا دا کارونه به مو ناوړه ونه ګڼي؟**
- **هو، یو څه ناوړه به یې وګڼي، خو که کومو ښځو ته یې مېړونه وهم وایي، په پټه خوله به یې ومني.**
- **او آیا هغوی به دومره وفاداره او فرمان منونکې پاتې شي لکه نورې ښځې؟**
- **زموږ د ټګانو ښځې په وفادارۍ کې په ټول هند کې په متلونو کې یادېږي؟**
- **یعنې په ټګانو کې!**
- **هو.**
- **آیا د دې علت خو به د رومال کارنامه نه وي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب خان ادعا وکړه:

- ښايي لږ او زيات وي، خو ډېرې کمې ښځې د خپلې بې وفايۍ له امله وژل شوې دي.
- آيا ته د ((کالي بهواني)) لمانځنه کوې؟

فرنگيا - د زمانې نوموتی ټگ:

- هو، ټول خلک د هغې د بتخونې عبادت کوي.

صاحب خان په خبره کې ور ولوېد:

- په دکن کې خانان او لوی لوی اميران د کالي دېوي بتخونې ته راځي او د هغې په وړاندې سجدې کوي کله چې د هغوی په ماشومانو کې د چيچک ناروغي خپره شي. ډېری يې موږ په خپلو سترگو ليدلي.
- نو آيا هغه خلک پر دې باوري دي چې دېوي ستاسې (ټگانو) ساتنه کوي؟
- هو، په هغو کې ځينې خو دي او ځينې کوښښ کوي چې له خپل کاروبار څخه مو منع کړي خو هغوی موږ ته له سزا راکولو وېرېږي. د مدورا والي، چې څو سوه ټگان ورسره دي، نواب ((دولې خان)) ته گرانبيه ډالۍ ورلېږي او نواب پوهېږي چې دا هر څه له کوم ځايه راځي. نواب هغه ته وړانديز کړی چې هر کله يې له دې کاروبار څخه تقاعد واخيست نو ماليه ښنلې ځمکه به د کښت لپاره ورکړي، خو زما په اند هغه به خپل کار هېڅکله هم پرې نه ږدي.
- آيا خلک درنه وېرېږي؟
- هو له موږ ډېر زيات وېرېږي او هېڅکله هڅه نه کوي چې موږ ته زيان ورسوي.
- ولې درته زيان نه رسوي؟ ولې ستاسې وېره د خلکو په زړونو کې ناسته ده؟
- ځکه څوک چې موږ ته زيان ورسوي، بهواني خداينه د هغه غچ ورڅخه اخلي. آيا د جلونا راجا ((ننا)) د خداينې په امر د برگې په ناروغۍ اخته نه شو، ځکه هغه ((بدو)) او د هغه ورور ((کمبولي)) چې نامتو ټگان وو، ووژل.
- آيا ((ننا)) پر دې خبره باوري وو چې دا سزا دېوي ورکړي او هغه هم د ټگانو د وژلو له امله؟

يوه مسلمان ټگ وويل:

- هو، هغه ډېر ښه پوهېده.
- آيا هغه د دېوې د خوشالولو لپاره څه ونه کړل؟
- هر څه يې وکړل، ((بدو)) په جلونا کې يوه ځاه شروع کړې وه، راجا هغه بشپړه کړه. د هغه په نوم يې يوه چوتره جوړه کړه، برهمنو باندې يې ډوډۍ وخوړه او د هغوی په امر يې عبادتونه ترسره کړل، خو دا هر څه بېکاره لاړل. هغه ځاه او چوتره اوس هم هلته شته او زرگونه خلک د عبادت او دعاگانو لپاره ورځي. ټول خلک پر دې خبره باوري دي چې راجا ټگانو ته د سزا ورکولو له امله مړ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خو د ((بدو)) له وژلو مخکې د هغه پزه او غوږ غوڅ کړی شوي وو، ولې په هغه وخت دېوي ورسره مرسته ونه کړه؟

فرنګیا وویل:

- هغه ډېر مشهور ټګ وو، تر کومه چې د هغه د هوښیارتیا خبره ده نو موږ له هغه نه زیات عقل مند بل هېڅوک نه دی لیدلی، څوک چې د ټګۍ په کاروبار کې دي، هغوی به د برکت لپاره د هغه څنګ ته ورتلل.
- آیا له دې نه علاوه نورې بېلګې هم لرئ؟

شیخ عنایت وویل:

- ډېرې زیاتې ، کله چې ((مادو جي سندیا)) ۷۰ ټګان ونیول او د هغوی د وژلو هوډ یې وکړ نو دېوي په خوب کې ورته راغله او ورته ویې ویل چې ټګان پرېږده. خو هغه یې خبره ونه منله او کله یې چې ووژل، نو آیا په دوهمه ورځ یې وینه تف نه کړه؟ او آیا د درې میاشتو دننه مړ نه شو؟

ناصر ټګ د خبرو وار ونیو او ویې ویل:

- دېوي له دې امله زموږ ساتنه کوي چې موږ د هغې امرونه منو.
- ستاسې دا عقیده ده چې کوم انسان، بل انسان نه وژني، بلکې څوک چې د غاړې په غرغره کولو وژل کېږي، هغه د خدای په امر ترسره کېږي.
- هو.
- بیا نو د هغو ټګانو په اړه څه وایئ چې د قتل په الزام کې په ساګر او جبل پور کې اعدام شوو؟
- دا هم د  خدای په امر وشوو.
- ستاسې په اند موږ د خدای له خوښې پرته ټګان نه نیولی شو او نه یې وژلی شو؟
- بالکل همداسې ده.
- آیا ټګان د خپلو هغو ملګرو درناوی کوي او که یې بد ګڼي چې د زیاتو خلکو غاړه یې ټینګه کړې او وژلي وي؟

بهرام خان وویل:

- ټګان د نورو ټګانو عزت کوي، د هغوی د خدمت لپاره هر وخت حاضر وي او د هغوی هر امر پر ځای کېږي. هغه چاپي کېږي، سر او پښې یې کېکاږل کېږي او پېټي یې د هغوی په ځای نور خلک اوچتوي. هغوی زیاتره په اسونو سپاره وي. کله چې ټګ له موږ نه بېل شي، بیا یې درناوی نه کوو.
- آیا تاسې قتل او لوټمارۍ ته په خوښۍ ځئ او که په خپګان؟

بهرام وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په خوښۍ ځو، که خوشاله نه اوسو بیا ولې لاړ شو؟ له خوشالۍ پرته بل څه کېدی شي؟ په ځانګړي ډول موږ هغه وخت ډېر خوشاله کېږو، چې په خپل سفر کې یو ښه فال ترلاسه کړو.

**رمبا نومې هندو ټګ وویل:**

- بهواني زموږ مېرمنه زیاتوي او هغه د ورانۍ دېوي ده چې ټول هندوان یې لمانځنه کوي.
- آیا ټګ دا خوښوي چې د غاړې ټینګولو مسؤلیت دې ورکول شي او یا هیله کوي چې دا کار دې کوم بل چاته وسپارل شي؟

**رمبا ځواب ورکړ:**

- د خام زړه وال ټګ له دې کاره ځان پټوي، خو زړور او مېړني تل دې کار ته اماده وي.
- آیا د یو چا د غاړې غرغره کول ډېر ځواک غواړي؟
- هو، د دې کار لپاره ډېر ځواک ته اړتیا وي. په دواړو لاسونو کې باید زیات قوت وي، تر څو دا کار ژر پای ته ورسېږي. که په کار کې لږ هم ځنډ او خنډ رامنځته شي، نو ستونزې را ولاړېږي.
- زیاتره خلک جسدونو ته له ور نږدې کېدو وېرېږي. آیا ټګان هم په خپلو لاسونو د مړه کړو خلکو د جسدونو په پورته کولو کې د وېرې احساس نه کوي؟

**مسلمان ټهګ فتح خان ځواب ورکړ:**

- که کوم شخص په طبیعي مرګ مړ شي نو د هغه مړه بدن ته له ور نږدې کېدو وېرېږو، خو کله چې په خپلو لاسونو یو څوک ووژنو نو بیا هېڅ ځنې نه وېرېږو، که څه هم زموږ شاوخوا هرڅومره مړي پراته وي. موږ د هغوی په منځ کې بې له کومې وېرې ناست یو. آخر موږ ولې له هغو مړو وډار شو چې موږ په خپله وژلي وي. دا زموږ کاروبار دی، موږ د مړو په لیدو خوشالېږو، په دې چې موږ ترې ډېرې پیسې ترلاسه کوو.
- آیا په وژل کېدونکو مو هېڅ زړه نه خوږېږي؟

**اله یار په لوړ غږ وویل:**

- څه؟ آیا قاتل هم باید پر یو چا زړه وخوږوي؟
- آیا داسې نه کېږي چې ټګ کله کله د مسافرانو له نېک خوی او غوره چلند نه اغېزمن شي او د هغه له وژلو لاس واخلي؟ او آیا داسې نه کېږي چې هغه ټګ چې نوی نوی دې کار ته راغلی وي، هغه پرې ورحمېږي او د مسافر د ژوند لپاره د رحم غوښتنه وکړي؟

**اله یار وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د داسې کس خوله ور تړو.

فتح خان د یار خبرو ته اوږه ورکړه او ویې ویل:

- له وخت سره چې کله جامې او پیسې لاسته ورشي نو هغه هم پر دې کاروبار خوښ شي.

هندو ټګ ((شیو دین)) د خپل مسلک لپاره یو بل دلیل هم وړاندې کړ:

- که موږ هر وخت رحم وکړو نو زموږ کاروبار به څنګه پر مخ ځي؟
- د چا چې غاړه غرغره کېږي، د هغه له خولې غږ هم وځي او که یې غږ ور دپول کېږي؟
- نه، هېڅ ډول غږ هم نه وځي، فتح خان وویل؛ هو، که په کار کې لږ هم خنډ او ځنډ رامنځته شي نو ډېر شور او زوږ رامنځته کېږي.
- آیا د هغه رومال، چې تاسې غاړه پرې ټینګوئ، د وژول کېدونکي په غاړه نښان پاتې کېږي؟
- هو، سور نښان پاتې کېږي او غاړه یې پړسېږي.
- خو له زندۍ کولو وروسته مړی په خنجر ولې وهئ؟

فتح خان وویل:

- تر څو په هغه کې هېڅ ساه نه شي پاتې او بل د دې لپاره چې بهواني ته یې وینه ورسېږي، ځکه وینه هغې ته خوښې بښي.
- آیا ټګان د خپلو ګاونډیانو کره هم غلاوې کوي؟
- په دې خبره ناستو شپږ واړو ټګانو سر وښوراوه چې هېڅکله هم نه، موږ هېڅکله هم غلا نه کوو.

اله یار یې په تایید کې وویل:

- که موږ ته د زرو روپو د غلا موقع هم په لاس راشي، بیا به هم داسې کار ونه کړو.

فتح خان زیاته کړه:

- موږ هېڅکله هم غلا نه کوو، خدای چې موږ ته څه راکوي د ټګۍ په وسیله یې راکوي.

شیو دین وویل:

- زموږ په کلي کې ډېر زیات غله وو، خو زما پلار همېش همدا نصیحت راته کاوه چې هېڅکله هم له هغوی سره یو ځای نه شم په دې چې هغوی له ټګۍ پرته پیسې ګټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بهرام په ویاړ وویل:**

- **یو غل تر ټولو سپک انسان دی او یو ټګ په اس سورلۍ کوي، خنجر له ځان سره ګرځوي، پراخه سینه ګرځي، غلا هېڅکله هم نه کوي. که د کوم شتمن ټوله خزانه هم زما په مخکې پرته وي او زه یې د ساتنې مسؤل اوسم، غلا به ځنې ونه کړم، پرته له دې چې که له لوږې مړ کېدم. خو که همدا کس مسافر وي نو وبه یې وژنم.**
- **آیا ټګان په خپلو کې د یو بل غاړه غرغره کوي؟**
- **ټګان یوازې جاسوسان وژني، یو بل نه.**

**بل ټګ وویل:**

- **ټول ټګان په خپلو کې وروڼه دي.**
- **آیا تاسې کوم داسې ټګ پېژنئ چې ښې ډېرې پیسې یې ټولې کړې وي او وروسته یې دا دنده پرې ایښې وي؟**
- **هو، خو هغوی چې هر څومره هم شتمن شي، دا دنده نه شي پرېښودی.**
- **د وژل کېدونکو خلکو جسدونه څنګه خوندي کوئ؟**

**فتح خان د تفصیل ورکولو په موخه وویل:**

- **که ځمکه ډېرینه وي نو مړي په چاقوانو او تورو ټوټې ټوټې کړو او خښ یې کړو او د دې لپاره چې خلک د قبر ګمان پرې ونه کړي، پر همدې ځای خواړه پخوو او خورو او ټوله شپه د همدې مړو پر سر ویده کېږو او په آخر کې ایرې پرې شیندو.**
- **آیا د مړو خلکو پر قبر خواړه پخوئ، خورئ او ویدېږئ؟!**
- **هو، موږ خواړه پخوو، خورو او ویدېږو او یو یا دوه ورځې هلته په ډاډ سره تېروو. خو که کوم څوک په خپل مرګ مړ شي نو د شیطان له وېرې، نه هلته ډوډۍ خورو او نه هم پرې ویدېږو.**
- **که د غاړې ټینګولو، لوټلو یا خښولو پر مهال مو بل څوک ووینې نو له هغه سره څه کوئ؟**
- **اول ورته وایو چې ته هم زموږ په ډله کې راګډ شه، له موږ سره یو ځای اوسه او څه چې موږ کوو ته یې هم کوه، خو که دا وړاندیز ونه مني نو؟**
- **نو بیا څه؟**
- **هغه هم وژنو او له نورو سره یې یو ځای خښوو.**
- **آیا په دې اړوند کومه بېلګه لرئ؟**

**میر علي وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ډېرې زياتې؛ يوه کيسه خو له ما سره پېښه شوې. يو ځلې مو د مسافرو يوه ډله وليده، کله مو چې د هغوی کار ور خلاص کړ او جسدونه مو خښول، دوه کسان راغلل. پر مړو مو څادرونه داسې وغوړول لکه ويده چې وي. ميرخان ته مې وويل: هغوی پرېږده چې کور ته لاړ شي خو هغه هم سخت زړی وو، ويې ويل: ((ته گمان کوې چې هغوی به زموږ په اړه شک ونه کړي. مير علي صېب! خلک د مړو په بوی له لرې لا پوه شي. په اصل کې دوی هم زموږ ښکار دي او دېوي دوی هم زموږ په غېږه کې را اچولي او ها وگوره زموږ دوه نفره وخته ور رسېدلي.))

ما هم وويل چې څه د خدای خوښه ده، هغه له هر څه ښه ده او خوله مې پټه ونيوله. مير خان هغوی ته نږدې ورغی او ترې ويې پوښتل چې پړاو څومره لرې دی، تاسې له هغه ځايه څه وخت را روان شوئ. هغوی وويل چې موږ سهار وخته را ووتو او څوارلس ميله واټن مو وواهه، خو لمر ډېر تېز دی او اوس يو څه نور واټن هم وهو. له دې خبرې سره هغوی غوښتل، مخته لاړ شي. خو ميرخان ودرول او د نورو مسافرو اړوند يې ترې پوښتل چې په هغوی پسې را روان وو.

په دې وخت کې ما په امرانه لهجه ورته وويل: تاسې ته په کار ده چې هغوی ته په تمه شئ که نه نو د دې بيه به تاسې پرې کوئ. په دې خبره هغوی ولړزېدل او ويې ويل: تاسې خو ډاکوان ښکارئ. ښه نو له موږ سره چې هر څه دي، رانه وا يې خلئ او موږ پرېږدئ.

ميرخان وويل: ستاسې فکر ناسم دی، موږ ډاکوان نه يو، په ډاډه زړه کېنئ.

دوهم کس يو څه هوښيار وو، هغه وويل: وي که نه وي، دا خلک ټگان دي.

ما هم په زړورتيا وويل: رښتيا وايې، موږ ټگان يو. وگوره، په مخکې مو پنځه مړي پراته دي او اوس به پر هغو دوه نور هم زيات شي. دا ټولې د تقدير لوبې دي او له تقديره تېښته نشته.

ښاغليه، زما پر هغو بې گناه خلکو ډېر زيات زړه وخوږېد. هسې چټې پټې را گير شوو. زه خو له هغه ځايه لاړم، خو وروسته مې فکر کاوه چې که ملگري مې په دې کمزورۍ خبر شوي وی نو سمدستي به يې له سردارۍ لرې کړی وم.

ميرخان يې څنگ ته ورغی او په ډېرې سختۍ سره يې د ولاړېدو امر ورته وکړ. بيا يې وويل چې خپل څټونه راوړاندې کړئ او څرنگه چې قصابي د چړې په يوه وار غوايي ذبح کوي، په همدې ډول يې د لاس په معمولي حرکت دواړه ووژل. تر اوسه پورې مې لا دا ننداره کوله چې له بده مرغه دوه نور مسافر هم را ورسېدل. په هغو کې يو ځوان وو او بل سپين ږيری. ځوان ما د خپل ځان لپاره غوره کړ او څنگه چې زما ترڅنگ تېر شو، په غاړه کې مې رومال ور واچاو. همدا کار له هغه بل سره هم وشو. بيا مو ټول مړي يو ځای خښ کړو او خپلې جامې مو بدلې کړې او روان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټګانو پای

په لومړيو وختونو کې د ټګانو شتون د خلکو لپاره دومره لويه ستونزه نه وه. په دې چې فعاليتونه يې ډېر کم او له نشت سره برابر وو. خو کله چې يې وژنې او لوټمارۍ زياتې شوې، د خلکو اندېښنې يې را وپاورلې او خلک يې په وېره کې واچول. د دوی زياتره فعاليتونه به د دهلي او جبلپور تر منځ وو. په دې سيمه کې به پوره پوره قافلې ترۍ تمې شوې او خلک به لا درکه شوو. په پايله کې خلکو سفرونه کم کړل او سوداګرۍ په ټپه ودرېده.

د ټګانو له منځه وړل له دې امله سخت وو چې لويو ځمکوالو او د رياست حکمرانانو ترې ساتنه کوله او د غلا په مالونو کې د هغوی برخه ټاکلې وه. وروسته دا نښې هم ترلاسه شوې چې د برتانوي سيمو عسکر هم له دوی سره يو ځای شوي او په ډېری قضيو کې به قاضي د رشوت په بدل کې دوی خوشي کول. څرنګه چې د دوی د لوټمارۍ طريقه داسې وه چې تر شا به يې نښې نښانې نه پرېښودې او له وژلو وروسته به يې د مړو نښې له منځه يو وړې، له همدې به د قتل هېڅ نوم او نښان نه پاتېده. پاتې شوه د غلا سامان او مالونه نو هغه به يې د نورو سيمو په تجارانو پلورل. تر دې چې زياترو ځمکوالو خپل ټګان درلودل او خاص د همدې کار لپاره يې ګومارلي او ساتلي وو.

د مغليه سلطنت له ماتېدو وروسته ختيځ هند کمپنۍ د سياست واګې په خپل لاس کې اخيستې وې. خو په هېواد کې د سياسي يو والي او پياوړو ادارو د نه شتون له امله هرې خوا د لوټمارۍ او شکونې بازار تود وو. برتانوي حکمرانان پوهېدل چې تر څو پورې په هېواد کې امن او سوله نه وي، تر هغې به د دوی واک او اقتدار د ولس مينه او علاقه لاسته رانه وړي او د دې لپاره چې د خلکو په منځ کې د دوی رعب او دبدبه کمه نه شي، يادې کمپنۍ د ټګانو د له منځه وړو لپاره پايڅې را بډ وهلې؛ د دوی د خوځښت يوازينی علت د خپل پت او عزت ساتنه نه وه بلکې د دوی هغه عسکر چې د رخصتيو په ورځو کې به خپلو کورونو ته تلل، هم د همدې ټګانو د ظلم او تېري ښکار شوو او هېڅ درک به يې نه لګېده. د ټګانو ظلمونو برتانوي حکومت ډېر زيات اندېښمن کړی وو، په دې چې د همدوی له امله لارې خوندي نه وې، سوداګري له زيان سره مخ وه، په خلکو کې يې د دوی په خلاف بې باوري زياته کړې وه؛ ځکه نو برتانوي حکومت د خپل عزت د خوندي کولو لپاره اړينه وبلله چې د مسافرو د ځان او مال د ساتنې او د سوداګرۍ د پراختيا لپاره د لارو امنيت وساتي.

په دې اساس ختيځ هند کمپنۍ دواړه بهرني او داخلي لاملونه لرل. نوموړې کمپنۍ د دې کار لپاره جنرال ((ويليم هنري سليمن)) وګماره.

سليمن يو ځل له دهلي نه تر جبلپور پورې لاړ او يوه قافله هم ورپسې وه، خو نوموړی په خپله دهلي ته روغ رمټ ورسېد او قافله د تل په څېر غايبه شوې وه او نوم نښان يې هم نه وو پاتې. له دې وروسته سليمن د ټګانو په اړه څېړنه او پلټنه پيل کړه او په دې يې ځان پوه کړ چې د ۱۸۳۰ز په لسيزه کې کابو زر ټګان په وژنه او لوټمارۍ کې مصروف وو او په کال کې به يې له شلو نه تر دېرشو زرو پورې مسافر وژل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم سلیمن د لږ شمېر پوځ او عسکرو جنرال وو خو نوموړي دا کار دومره په منظمه توګه پر مخ یووړ چې ډېر ژر یې ښې پایلې ورکړې. سلیمن د ټګانو د نیولو لپاره د هغوی په منځ کې د ځان په ګټه شاهدان پیدا کړو او د هغوی په واسطه یې نه یوازې د ټګانو بېلا بېلې ډلې ونیولې، بلکې د هغوی د دودونو، عقایدو او ژبې په اړه یې هم ډېر زیات معلومات راټول کړل. په خپله د ټګانو په مرسته نوموړي وکولی شو چې په ځنګلونو کې هغه ځایونه هم پیدا کړي چېرته چې به دوی مړي ښخول او په دې ډول یې د ثبوتونو او شاهدانو په موندلو هغوی ته ښې درنې سزاوې ورکړې. د ټګانو د د دودونو په برخه کې دا خبره په لنډ ډول یاده شوې چې کله ټګان ونیول شوو نو د خپل ځان او نورو په اړه یې ټول معلومات برتانوي حکومت ته وسپارل، د هغوی د شاهدانو په توګه یې له هغوی سره کومک او مرسته وکړه او په خپلو کړنو او جرمونو یې اعتراف وکړ. تر دې چې د سید میر علي په څېر د ټګانو سردار د خپل ډېر نږدې ملګري او لوی ټګ ((ګنېشا)) د نیولو په پار له برتانوي عسکرو سره پخپله د ((ګنېشا)) کور ته لاړ او د ټګۍ په بانه یې له کوره را وایست او عسکرو ته یې په لاس ورکړ. د دوی دې کار ښایي دوه علتونه لرل: یو دا چې دوی خپل کار ګناه او جرم نه باله بلکې د یوې دیني او مذهبي دندې په سترګه یې ورته کتل او ښایي خپل مرګ یې هم د شهادت مرګ باله؛ بل دا چې دوی له ژوند څخه تمه نه لرله او له مرګ څخه وېره.

هغه ناول چې د کتاب په سریزه کې یې یادونه شوې، د ټګانو د همدې اعترافاتو په اړه دی. د ناول مرکزي یا اصلي کرکټر د ټګانو سردار سید میر علي دی. میډو ټېلر چې د دې ناول لیکوال دی د ناول ټولې پېښې د میر علي له خولې اورېدلې، له ځان سره لیکلې او د ناول بڼه یې ورکړې. دا ناول یو داستاني، تاریخي، اعترافي او څېړنیز ناول ګڼلی شو. داستاني په دې چې د ټګانو کیسه د یوه داستان په توګه پکې شوې؛ تاریخي په دې دی چې ټول واقعیتونه پکې څېړل شوي او د تاریخ په ډول وړاندې شوي؛ څېړنیز یا تفتیشي په دې دی چې ((ټېلر)) له میر علي څخه د هغه د ژوند، ټګۍ او فعالیتونو په اړه پوښتنې او پلټنې کړې. او اعترافي په دې ورته ویلی شو چې میر علي خپلې ګناوې، سرغړونې او جرمونه منلي، له همدې امله په یاد ناول د ((Confessions of A Thug – د یوه ټګ اعترافات)) نوم ایښودل شوی.

په دې ډول سلیمن وکولی شوی چې د ۱۸۳۱ز نه تر ۱۸۳۷ز د دېرش زره ټګانو په خلاف قضیې حکومت ته وسپاري او هغوی ته سزاوې ورکړي. په هغوی کې ډېری یې اعدام کړی شوو او ځینو ته یې د تورو اوبو سزا ورکړه. او په دې ډول دا ډله چې له ۱۷۹۰ ز کال نه تر ۱۸۴۰ز پورې یې زرګونه خلک ووژل، کورنۍ یې د ویر په ټغر کېنولې، د هېواد اقتصاد، امنیت او ارامتیا ته یې پاخه ګوزارونه ورکړل، له منځه وېوړل شوه. د دوی د ډلې ټول سرداران له بهرام خان نیولي تر سید میر علي او داسې نور ټول یو یو اعدام شوو او هند یو ځل بیا له خوشالۍ او سوکالۍ برخمن شو او هېوادوالو یې یو ځل بیا له ډاډ او ارمتیا ډکه ساه واخیسته.

د ټګانو د له منځه تلو په تاریخ کې چې کوم درس وینو، هغه دا دی چې که چارواکي او مسؤل کسان ایمانداره، زیارکښه او کارکوونکي اوسي نو د دې امکان زیات دی چې هر ډول جرایم او سرغړونې له منځه یووړل شي. سلیمن د دې کار له پیلولو مخکې له ټولو جریاناتو ځان خبر کړ او په دې یې هم ځان پوه کړ چې د لویو ځمکوالو او دولتي چارواکو له مرستې پرته ټګان جرایم نه شي ترسره کولی، د همدې لپاره د ټګانو د له منځه وړلو لپاره اړینه وه چې د هغوی مشران له منځه وړل شوي وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ټګانو د تنظیم د ماتولو لپاره سلیمن د هغوی په منځ کې جاسوسان پیدا کړل، په ځانګړي ډول د هغوی مشران یې دې ته اماده کړل چې د نورو ډلو د له منځه وړلو لپاره له دوی سره کومک وکړي. د دې هڅو پایله دا شوه چې لارې خوندي شوې، مسافرو او سوداګرو بې له وېرې او ډاره سفرونه پیل کړل او په دې اساس د خلکو په زړونو کې د برتانوي حکومت رعب او دبدبې هم ځای وکړ.**


## پای

**احمد شاه بابا مېنه، کابل – افغانستان**

**2018، 27، آګسټ، یکشنبه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټګانو په اړه د لا زیات پوهاوي لپاره د هغوی یو څو انځورونه






بهواني یا کالي دېوي

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ټګانو د استوګنې ځای؛ که پام وکړئ نو دوی هېڅ داسې نه برېښي چې دوی به ټګان وي
او همدا د دوی تر ټولو لویه وسله وه.



د ټګانو ډله ایز برید

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ټګانو ډلې، چې هره یوه یې خپله دنده ترسره کوي.



د ټګانو له خوا د مړو لپاره کیندل شوی قبر.



(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال ولیم هنري سلیمن



سید میر علي، په ۱۸۳۲ ز کې ونیول شو.



د ټګانو ځانګړی رومال



بهرام خان، په ۱۸۴۰ ز کې اعدام کړی شو.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**